لنګستن هیوز

ژباړه: انجمن اجتماعی زحمتکشان افغانستان


۲۵ نومبر ۲۰۱۱



## د فلوریډا د واټونو کارګران

دا دی یو واټ جوړوم

څو موټري وربانديې تیرې شي،

یو واټ جوړوم

د خرما د ونو تر منځ

څو رڼا او تمدن

وربانديې تیر شي

یو واټ جوړوم
د زړو او خرپولو سپین پوستکو لپاره
څو په خپلو لویو موټرو سره ورباندې تیر شي او
ما دلته هک پک پریږدي.

په دې بنه پوهیږم
چې دا واټ د ټولو په ګټه دی:
سپین پوستکي په خپلو موټرو کې سپریږي
زه هم د هغوی سپریدل ننداره کوم.
تر اوسه پورې مې هیڅکله نه و لیدلي
چې څوک دې دومره ښایسته موټر وچلولي.
آهای ملګرو!
په تمه ووسئ:
یو واټ جوړوم!